USAID | AGRICULTURAL CREDIT ENHANCEMENT
FROM THE AMERICAN PEOPLE

MINISTRY of AGRICULTURE,
IRRIGATION and LIVESTOCK
Statistics & Marketing Information Dept.

## د بازار (د وضعی) لنډیز: خټکی او هندوانه
## د صادراتی ظرفیت په هکله یو اجمالی نظر



# خټکی او هندوانه

دا خپرونه د USAID د کرنیزو کریډیټونو د زیاتوالی پروګرام له خوا د کرنی، اوبولګولو او مالداری د وزارت د پلان او پالیسی د لوی مدیریت د احصائیوی معلوماتو او بازار لټونی د څانګی په مرسته جوړه شوی ده.

MARKETBRIEF

شمیره ٤

PAYWAND پیوند

# ختکی او هندوانه

د بازار په هکله دا لنډه توضیح د ختکیو او هندوانو په باره کې تمرکز لری. په یوې بریالۍ بازار لټونی پوری تړل اړوند پراوونه لکه تولید، مصرف، د سوداګری بهیر او په ملی او بین المللی کچه نرخونه د لاندی اساسی پوښتنو په رڼا کی تحلیل (څیړل) شوی دی.:

۱) آیا نومړی توکي کولای شي د سیمی او یا له هغې څخه په لوړی کچې د سیالۍ (رقابت) توان ولری؟ که چیری هوؤ نو په هغه صورت کې

۲) د کومو هیوادونو بازارونه تر هدف لاندې دی، او

۳) آیا نوو صادراتی بازارونو ته د لاسرسی لپاره باید کوم شیان پخپل ذهن کې وساتو؟ (باید کوم موضوعات خپل ذهن ته وسپارو)؟

د دغو پوښتنو ته ځوابونه ډیر اړین دی، ځکه (۱). په افغانستان کې تولید شوی ختکی او هندوانې په طبیعی توګه ددی هیواد د اقلیم ته په پاملرنی سره، د عالي کیفیت درلودونکي دي او په نړۍ کې د لوړ ارزښت بازارونو ته د رسیدلو عمده شرطونه بشپړولی شی، (۲). صادراتی تولید په اوږدمهال کی دکرنیزو توکو به بریالی راکړی ورکړی کې رول لری او کیدای شی چې د نمونې په توګه د نورو ورته (مشابه) توکو لپاره سرلیک وګرځی.

د نړۍ په کچه په ۲۰۰۹ کال کې د ختکیو او هندوانو تولید ۱۲۵ ملیونه ټنه تخمین شوی وو. په پورتنۍ شمیرې کې د هندوانو برخه ۸۰٪ او د ختکیو برخه ۲۰٪ ده. دریم ګراف د نړۍ په کچه عمده تولیدونکی هیوادونه په ګوته کوی. چین ډیر عمده تولیدونکی هیواد دی او د ټولې نړۍ د ټول تولید ۶۲ په سلو کې تولیدوی. په داسی حال کې چې نور هیوادونه لکه ترکیه، د اروپا اتحادیه او برازیل د نومړو توکو د تولید لړه برخه جوړوی.

د وروستیو احصائیو پر بنسټ، افغانستان د نړۍ د تولید لږ تر لږه ۱ ٪ تولیدوی او په دی توګه د ښو تولید کوونکو په کتار کی شمیرل کیږی.شمیری او رقمونه ښئی چی چین ډیر عمده تولید کوونکی هیواد دی په داسی حال کی چې نور هیوادونه چې ډیر لږ تولید هم لری په نړیواله کچه فعال دی او ډیر ګومان کیږی چې د قیمتونو پر تغیر اغیز وکړی. مکسیکو، د اروپا اتحادیې هیوادونه او متحده آیالات د هغو هیوادونو په جملی کی شمیرل کیږی چی د نومړو کالیو (توکو) په صادراتو او ارزښت کی لوړه برخه لری.

د ختکیو تولد د ۶۴۰ زره ټنو په شا او خوا کی وړاندلید (پیش بینی) شوی وو. ددی توکې تولید نږدی په ټول هیواد کې رواج لری او عمده تولید کوونکی ولایتونه ئې کندز، فاریاب، هرات، جلال آباد او داسی نور دی چې د نومړی توکي ډیره عمده برخه همدا ولایتونه تولیدوی. اقتصادی ارزښت ئې تر ۱۲۶ ملیونو امریکائی ډالرو پوری تخمین شوی وو. ختکی د ارزښت او مقدار له درکه ډیر لوی او مهم تولید ګڼل کیږی. د MAIL د احصائیو پر بنسټ ختکي د نورو میوو په مینځ کې له انګور او هندوانو وروسته دویم لوی تولید شمیرل کیږی.

## تولید

په ۲۰۰۸ کال کې د هندوانو تولید د ۸۰۰ زره ټنو په شااوخوا کی تخمین شوی وو. لکه څنګه چې په لمړی شکل کی لیدل کیږی، فراه او فاریاب عمده تولیدونکې ولایتونه دی. له دغه تولید څخه متوقعه عواید ۱۴۳ ملیونه امریکائی ډالر وو. د کرکیلې (کشت) ساحه له ۲۰۰۰** م کال څخه، ۳ واری پراخه شوی او شااوخوا ۲۰۰۰۰ هکتارو ته رسیدلی ده. نومړي تخمینونه ښکاروی چې د هندوانو تولید د انګور له تولید سره د مقایسې وړ دی او په دې توګه په افغانستان کې د هندوانی تولید او مصرف له انګور سره انډول لری.

لمړی شکل: د ولایتونو پر اساس د هندوانو تولید




منبع: ریاست احصاییه مرکزی

دوویم شکل: په ولایتونو کی د ختکیو تولید




منبع: ریاست احصاییه مرکزی

دریم شکل: په ۲۰۰۹ کال کې د ختکیو او هندوانو تولید کوونکی هیوادونه




سرچینه: اول او دوهم ګراف د کرهنی لرلید، ۲۰۰۹ کال، د FAO آنلاین داتابیس.

*Production data is an accumulative of production values in 19 provinces based on 19 Agriculture Profiles from ASAP.

** CSO Yearbook 2009

# سوداګریز بهیر

آیا افغانستان په دی اړه به بین المللی بدلونونو کی په کومه سطح (کچه) کی واقع دی؟ آیا له بالقوه ظرفیت څخه استفاده شوی ده؟ که شوی وی نو افغانستان د ګټی په کومی سطحی کی قرار لری؟ ددغو پوښتنو ځواب لپاره ادا لاندی پراګرافونه چی د خټکیو او هندوانو د سوداګری د جریان په هکله او د هغوی د رقابتی قیمتونو په هکله دی، اجمالی نظر شمیرل کیږی.

صادرات

په ۲۰۱۰ کال کی د خټکیو او هندوانو صادراتی ارزښت ۱.۳۶ ملیونه امریکائی ډالرو ته رسیږی. په ۲۰۰۷ کال کی چی د صادراتو کچه ۲.۲ ملیون ډالر وو، د دغو کالیو صادراتی ارزښت ډیر لوړ وو خو په ۲۰۱۰ کال کی بیا ټیټ شو. په عمومی توګه په دی شمیره کی د نومورو توکو صادرات د ۲۰۰۰ م کال په پرتله، ۱۵ ځلی لوړتیا موندلي. څلورم شکل ځرګندوی چی په دې موده کی هندواني او خټکی کومو ځایونو (هیوادونو) ته صادر شوی دی. پاکستان له افغانستان څخه د ډیر لوړ ارزښت او مقدار د وارد کوونکی په توګه، د افغانستان د صادراتو ډیر لوی شریک شمیرل کیږی. د صادراتی نرخونو وسطی حد په ډیره ټیټه کچه کی واقع دی او داسی بریښی چی دغه ګاوندی هیواد ته په هر واحد کی کټه هم ډیره ټیټه ده. هند د افغانستان د صادراتو بل شریک دی چی هغه ته د صادراتو ارزښت د پاکستان په پرتله لس ځلی لږ ده. نورو هیوادونو لکه د عربو متحده امارات، کویټ او پولنډ ته صادرات په منځنی توګه ډیر ښه حالت تمثیلوی. خو نومورو ځایونو ته صادرات کله، کله صورت مومی. د صادراتو انکشاف له نږدی ځرګندوی چی د صادراتو جغرافیا په ګاونډی هیواد کی تمرکز موندلی او د صادراتو/تولید(د صادراتو او تولید ترمینځ) تناسب د ۱۰ ٪ په حدود کې دی. آیا په خټکیو او هندوانو پوری اړوند د تجارت او ګټی استراتیژی صحیح او دقیقه ده؟

پنځم شکل د بین المللی سوداګری د جریان جغرافیا د هندوانو او خټکیو د عمده واردکوونکو هیوادونو پر اساس ځرګندوی.

څلورم شکل: له افغانستان نه د هندوانی او خټکی صادرات ـ ۲۰۰۰ تر ۲۰۱۰، په امریکائی ډالرو




منبع: شکل بالایی کتاب احصاییوی سالانه CSO، ذخیره معلومات KMF، شکل پایانی: ذخیره معلومات UNSTAT

پنځم شکل: د هندوانو او خټکی په صادراتو کې عمده شریکان(۲۰۱۰-۲۰۰۰)




منبع: UNSTAT database, X = Value in US$ Y = Quantity in Kg Size = Average Price US$/Kg

شپږم شکل: د خټکیو او هندوانی عمده واردوونکی هیوادونه




منبع: Unstat online

# ختکی او هندوانه

هیڅ یو هیواد چې په اوسنی حالت کې صادرکوونکو بین لمللی بالقوه بازارونه لکه د اروپا اتحادیه (۲۷ هیوادونه)، روسیه یا کانادا په نښه کړی نه دی.

په اوسنی حالت کې تولې هڅې د سیمې هیوادونو ته متوجه دی او دا باید په راتلونکی کې بدلون وموی او دا ځکه چې:
لمړی) په سیمه کې نوموړی کالیو(توکو) ته د جذب کچه ټیټه ده او داخبره د صادراتو په کمیت او اندازې نیغ په نیغه اغیز کوی. دوهم) ځکه چې ختکیو او هندوانو منځنی صادراتی نرخ لکه چې په څلورم شکل کې لیدل کیږی، د نورو ځایونو په پرتله ټیټ ده. دریم) د مقدار او نرخ په هکله محدودیت پر داخلی تولید، د صادراتو پر عوایدو او ممکنه ګټو نیغ به نیغه اغیز لری.

## شته (موجود) او نوی بازارونه – هندوانه

مونږ محلی تقاضا او شته صادراتی بازارونو ته د تولید او سوداګری د جریان له نظره وکتل. اوس به په تفصیل نورو بازارونو ته د شته بازارونو په پرتله د کالیو(توکو) د راوړلو امتیاز او ګټه وشمیرو.

د هندوانو په هکله مونږ پر صادراتی متعادل نرخ د سیمې د وو هیوادونو هند او پاکستان او دوو نورو بازارونو لکه روسیه او پولینډ ته ډیره پاملرنه کړی ده.

## موجوده بازارونه - پیښور او لاهور، پاکستان

په ۲۰۱۰ کال کې په محلی بازارونو کې متوسط (منځنی) عمده نرخونه ۰.۲۴ امریکائی ډالر/کیلوګرام وو. د هندوانو ډیر لوړ نرخ د فصل په پیل یعنی اپریل میاشت کې په ۰.۵۰ امریکائی ډالر/ کیلوګرام وو. د هندوانو نرخونه د جولای او آګست په میاشتو کې ډیر راټیټیږی. د پاکستان د دوو ښارونو، پیښور او لاهور په بازارونو کې مقایسوی څیړنه ډیر لوی تفاوت نه څرګندوی. په لاهور کې د هندوانې د بازار عمده نرخ د محلی بازار د نرخ په پرتله ۵۰ په سلو کې ټیټ دی. په داسې حال کې چې په پیښور کې نرخونه په منځنی توګه ٪۷ لوړ دی. ۳۵ په سلو کې وارداتی تعرفی او د هر کیلو ګرام ترانسپورتی مصرف چې په یو کیلوګرام له ۱۰ تر ۴۰ سنټو پوری دی لوړ تعادلی صادراتی نرخ مینځ ته راوړی، او کله چې په لاهور کې د ډیر رقابتی نرخ سره پرتله شی، نو د لاهور بازار د محلی تولید کوونکو لپاره په زړه پوری نه برېښی. په دی صورت کې به تولیدکوونکی مجبور وای چې خپل توکی د لاهور په بازار کې په ټیټ نرخ چې نږدی ضرر ته وی، خرڅ کړی. د پیښور بازار د جولای د میاشتې وروستی اونی څخه بیا د آګست د میاشتې وروستنی اونی پوری په زړه پوری دی. په دی موده کې په محلی بازارونو کې د هندوانې نرخ د پیښور د بازار په پرتله په وسطی توګه په سلوکی ۳۰ ټیټ دی.

اتم شکل: په ۲۰۱۰ کال کې په محلی مارکیت او نوی دهلی بازارونو کې د هندوانو قیمت، امریکائی ډالر/کیلوګرام




اووم شکل: په ۲۰۱۰ کال کې په محلی او پاکستانی بازارونو کې د هندوانو منځنی قیمتونه(امریکائی ډالر/کیلوګرام)




منبع: AMIS, www.agmarknet.nic.in، تماس، برنامه ADP/E USAID، معلومات – روښن و برنامه IDEA NEW اداره USAID.

# نوی بازارونه

خو دغه په ژره پوری دوره لنډه ده او صادرونکی همغه ګټه لاس ته راوړی چې په محلی بازار کې ئی لاس ته راوړی شی، خو فرق او ګټه ئې د زیاتو توکو خرڅول دی.

**موجوده بازارونه - نوی ډهلی ، هند**

اووم شکل په نوی ډهلی او اړوند محلی بازارونو، جلال آباد او کندز، کې د هندوانو نرخ ځرګندوی. ډډهلی په بازار کې د هندوانو منځنی(وسطی) نرخ د کال په جریان(موده) کې هر کیلو ګرام په ۰.۱۹ امریکائی ډالره دی. په دی توګه یوه موده پاتی کیږی چې په هغی کې هندوانی په ښه نرخ خرڅیدلای شی او هغه هم ژمی دی. د اقلیمی ښیګڼو له کبله کیدای شی چې هندوانه په تودو سیمو لکه جلال آباد کې وکرل شی ترڅو د فبرورى د میاشتی تر نیمایی پورى په بازار کې موجود وی.

د هغو سل په سلو کې وارداتی تعرفه چې هند ئې په دغه توکی باندی وضع کوی، هندوانه کولای شی نوی ډهلی ته د صادراتی تعادلی نرخ چې یو کیلو ګرام په ۰،۳۵ امریکائی ډالرو دی، لار پیدا کړی او ټول په بازار کې جذب شی. د ښه فصل په جریان کې فرصت ډیر لږ او فاصله په کافی اندازه پراخه نه ده چې په صادراتو پورې تړلی مصرفونه تر پوښش لاندی ونیول شی.

په پایله کې: د صادراتی تعادل محاسبه ځرګندوی چې موجوده سیمه ایز بازارونه ډیر رقابتی دی او مناسبی ګټی لپاره متشبثینو/صادرونکو ته ځای نه پاتی کیږی. ګټه امکان لری خو د بازار د تحرکاتو پوهه او بازار ته د داخلیدلو ښه وخت د داسی تشبث لپاره ډیر اهمیت لری.

**نوی بازارونه – مسکو ، روسیه**

اتم شکل او لاندی اول جدول د صادراتی تعادلی نرخ محاسبه د دوو بازارونه لپاره ځرګندوی. ماسکو په روسیه او وارسا په پولینډ کې. د پولینډ او روسیی د انتخاب علتونه دادی ۱) هندوانی دغو سیموته په متفرقه توګه صادری شوی دی ۲) دا ځایونه د بهرنیو میوو او توکو لکه هندوانو لپاره د هوا ښه حالات نه لری ۳) د پولینډ بازار ته ننوتل د اروپایي اتحادیې – ۲۷ هیوادونو ته د ورننوتلو په مانا ده، روسیه او اروپائی اتحادیه، څنګه چې په دریم ګراف کې شودل شوی په نړیوالی کچې د ډیری لوړی تقاضا ځایونه دي.

اتم ګراف په وارسا کې د هندوانو د بازار عمده نرخ او محلی نرخونه او همدارنګه صادراتی تعادلی نرخ په وارسا کې په ۲۰۱۰ کال کې ځرګندوی. په وارسا کې د بازار عمده نرخ ۰.۷۲ امریکائی ډالر/کیلو ګرام دی چې په متوسط توګه ۱۹۲ په سلو کې لوړ یا د محلی بازارونو د نرخ تقریبا ۳ چنده دی. متوسط صادراتی نرخ ۰.۵۰ امریکائی ډالره/ یو کیلو ګرام ده. ۱۰۰ په سلو زیاتوالی په عمده توګه د ترانسپورت د مصرف له امله دی ځکه چې د اروپائی اتحادیې په بازار کې د هندوانې تعرفه صفر په سلو کې ده. نوموړی بازار ته صادرکوونکی د لاښې ګټی لاس ته راوړولو لپاره بازار ته د داخلیدلو د وخت انتخاب په لاس کې لری. د نوموړی توکی د خرڅلاو ډیر ښه وخت د فصل اول او آخر دی په داسی حال کې چې په آګست او سپتمبر کې نرخونه تر هدف لاندی بازار کې ډیر رقابتی کیږی.

لمړی جدول: په ماسکوکې د ۲۰۱۰ ککال په ښه فصل کې صادراتی قیمت

| امریکائی ډالر/کیلوګرام | قیمت/تعرفه/ترانسپورت |
|---|---|
| 0.2 | عمده متوسط محلی قیمت |
| 0.4 | د ترانسپورت مصرف |
| 0.01 | ماسکو ته وارداتی تعرفه(٪۵) |
| 0.61 | متوسط صادراتی متعادل قیمت(عمده قیمت+ترانسپورت+وارداتی تعرفه) |
| 0.8 | عمده متوسط قیمت په ماسکو—وارسا |
| **فیصدی** | **د ممکنی ګټی حد** |
| د صادراتی متعادل قیمت ۳۱ په سلو | هندوانی |
| **مطلق قیمت** | **د ممکنی ګټی حد** |
| 0.19 | هندوانی |
| **امریکائی ډالر/لاری** | **د ممکنی ګټی حد** |
| 5700 | هندوانی |

نهم شکل: په ۲۰۱۰ کال کې په وارسا او وارسا - EPP محلی بازارونو کې د هندوانی قیمتونه




منبع: USDA، معلومات روښن و برنامه IDEA NEW اداره USAID. * قیمت صادراتی شامل مصارف ترانسپورت، گمرکات و تعرفه وارداتی میباشد (روسیه ٥□، پولند □٠)

# خټکی او هندوانه

د ژمی په موده کې کټه کیدای شی ۰.۶ امریکائی ډالر هر کیلو یا ۱۵۰۰۰ ډالر هره لاری وی که چیری هندوانه دوارسا په عمده نرخ خرڅه شی، په داسی حال کې چې د فصل په پیل کې ئی نرخ (۱۰۰۰۰) ډالره یوه لاری کیری دا نرخونه پخپله غبرګری په وارسا کې د بازار د نرخ او صادراتی حساب شوی نرخ ترمینځ چې تر بازار د هندوانی د رسولو تول مصرفونه په کښی شامل دی، ډیر لوی توپیر وجود لری. کیدای شی له دې امتیاز څخه د ستراتیژۍ له نظره په ښو کلونو کې ګټه واخستل شی.

صادرونکی کولای شی د پلورلو د نرخ په ټاکلو کې چنی ووهی په داسی حال کې چې د توکو عمده پلورنه د ریفرینس په توګه استعمالیږی، او په دی توګه په هر کیلو کې ګټه لوړیږی چې نتیجه ئې د لږو توکو پلورل کیدل دی(واردکوونکی ښائی د افغانی هندوانو په اخیستلو کې کله چې د نرخ موضوع طرح وی، کومه واقعی ګټه ونه وینی). صادرونکی کولای شی پریکړه وکړی چې موجوده نرخ عمده بازار ته وړاندی کړی او خپل توکی په ارزانه نرخ وپلوری.

یوبل تر هدف لاندی بازار د ماسکو په بازار کې عمده پلورنه ده. په ښه فصل کې یو کیلوګرام هندوانه په ماسکو کې ۰.۸ امریکائی ډالره یا د محلی بازار څلورچنده، پلورل شوی ده. د صادراتی تعادلی نرخ محاسبه څرګندوی چې نرخ ۲۰۰ په سلو کې له محلی نرخ څخه لوړ او یو کیلو ګرام په ۰.۱۶ امریکائی ډالرو دی. ددی زیاتوالی سره سره، د ګټی کچه د صادراتی نرخ ۳۱ سلنه ده. دا په دې مانا ده چې په یوه لاری کې هندوانې ۵۷۰۰ امریکائی ډالره ګټه کوی په دی شرط چې هندوانی په بازار کې په عمده نرخ پلورل شوی وی.

**شته (موجوده) بازارونه – خټکی**

اوس به د خټکیو عمده نرخ په محل او پاکستان کې د خټکیو لپاره په موجوده بازارونو کې وڅیړو. نهم شکل د خټکیو عمده نرخ هم په محلی او همدا ډول د لاهور په بازار کې څرګندوی. په محلی بازار کې د خټکیو متوسط نرخ یو کیلو ګرام په ۰.۲۸ امریکائی ډالرو دی. په ۲۰۱۰ کال کې د خټکیو متوسط عمده نرخ په لاهور کې یو کیلو ګرام په ۰.۳۳ امریکائی ډالرو وو، او ددی خبری مانا داده چې په محلی بازار کې د خټکیو نرخ د لاهور د بازار د نرخ په پرتله یوازی ۱۵ په سلو کې لږ دی. له دی سره سره وخت پیژندنه داسی یو حقیقت دی چې کولای شی د ګټی یا ضرر موازنې ته بدلون ورکړی. د خټکیو بیه (نرخ) په محلی بازار کې د لاهور له بازار څخه په تیره بیا د فصل په پیل کې لوړه ده.

ددی موضوع مانا داده چې محلی خټکی په نوموړی وخت کې رقابتی (د سیالی) توان نه لری او په ډیر احتمال سره چې په بازار کې تقاضا پیدا نه کړی.

**نوی بازارونه – خټکی**

د روسیې او اروپا بازارونه د نوی بازارونو په توګه ټاکل شوی وو، چیری چې د خټکیو د سیالی توان آزمایښت شوی او هغه هم په داسی حال کې چې دغو سیمو ته صادرات کله – کله واقع کیږی او د واردونکو هیوادونو په توګه د هغوی اهمیت او دداخلی بازار تقاضا ته نه رسیدل هم په نظر کې نیول کیږی.
لسم او یوولسم شکلونه د خټکی محلی عمده نرخونه، د مسکو او هامبورګ په اړوند بازارونو کې عمده نرخ او همدا ډول په ماسکو او هامبورګ کې صادراتی بیې محاسبه، ښئی چې د خټکیو عمده نرخ کیلوګرام په ۱.۷ امریکائی ډالرو په شا او خوا کې چې په محلی بازار کې د محلی عمده نرخ څخه پنځه واری لوړ دی، حرکت کوی.

د شته صادراتی بازار په پرتله نوی بازار د صادرکوونکو لپاره ډیر زیات ګټور حالت برېښی. نوموړی توکی کولای شی په هغه صورت کې چې د متشبثینو له خوا د سیمی له هیوادونو څخه ډیر لری ځایونو ته راوړلو خطر ومنی، ډیره ګټه ور په برخه کړی، په موجوده بازارونو کې تقاضا او ګټه شته که څه هم کیدای شی چې په نوو بازارونوکې، چیری چې ډیری هڅې ډیر عاید مینځ ته راوړی، وضع لا ډیره ښه شی.

# نوی بازارونه

د بیو توپیر لوی دی خو د هغو مصرفونو په سبب چې موخی ته درسیدلو لکه وارداتی تعرفه او ترانسپورت باندی لګیږی، دغه توپیر یو څه لږوالی مومی په ۲۰۱۰ کال کې په ماسکو کې شمیرل شوی تعادلی صادراتی نرخ ۰.۷۸ امریکائی ډالره د یو کیلو ګرام په بدل کې وو چې توپیر ئی د بازار له عمده نرخ څخه سل په سلو کې لوړ دی. نرخونه په دواړو بازارونو کې ثبات لری چې مانائی داده چې احتمالی ګټه په (مختلفو) وختونو کې په مساوی توګه ویشل شوی ده. په هر کیلو کې د ۰.۹۱ ډالرو په حدود کې ګټه په یوه لاری کې دصادروونکی ګټه، که چیری خپل توکی په ماسکو کې عمده وپلوری د ۲۵۰۰۰ امریکائی ډالرو په حدود کې ده.

د هامبورګ په عمده بازار کې وضع همداشان ده، د خټکیو متوسطه عمده نرخ یو کیلو ګرام په ۱.۲۶ امریکائی ډالره دی چې د محلی بازار له عمده نرخ څخه دری واری لوړ دی. په هامبورګ کې صادراتی تعادلی نرخ د لږ ترانسپورتی مصرف او په وارداتو د تعرفی د نشتوالی له کبله ټیټ دی. د یو کیلو ګرام متوسط صادراتی تعادلی قیمت چې ۰.۵۳ امریکائی ډالره دی د اروپا په ټاکل شوو هیوادونو کې د قیمتونو له نیمائی څخه لږ دی. دا موضوع صادرونکو ته د چټی وهلو ښه امکان برابر کړی دی. هغه کولای شی خپل توکې د بازار په بیه خرڅ کړی تر څو لوړ ممکنه عواید ۲۰۰۰۰ ډالر لاس ته راوړی او یا نرخونه په بازار کې د پاملرنی د جلبولو لپاره لږ څه ټیټ کړی.

په هر صورت نوو بازارونو ته صادرات د محلی بازارونو په پرتله ډیر په زړه پوری دی. دغه موضوع د دواړو توکو خټکیو او هندوانو په هکله صدق کوی

لسم شکل: په ۲۰۱۰ کال کې د خټکیو بیه په محلی بازارونو او لاهور کې کیلو ګرام/ ډالر




یولسم شکل: په محلی بازار او د مسکو په بازار کې د خټکیو قیمت په ۲۰۱۰ کې د یو کیلو ګرام/ ډالر له مخی په ماسکو کې صادراتی تعادلی قیمت




دولسم شکل: په ماسکو او محلی بازارونو کې د خټکیو قیمت صادراتی تعادلی قیمت په هامبورګ کې، ۲۰۱۰ کال، کیلوګرام/امریکائی ډالر




منبع: AMIS, USDA. د میوو معلومات، MALOMAT روشان او USAID IDEA NEW

* په صادراتی نرخ کې د ترانسپورت مصرف، ګمرکی تصفیه او وارداتی تعرفه شامل دی. (روسیه ۵٪، پولند ۰٪، پاکستان ۳۵٪)

# پایله:

**ملی لید:** ختکی او هندوانی دواړه د میوو په کتار کې ډیر مهم او د پام وړ توکی دی چې په افغانستان کی تولیدیږی، که څه هم د دغو توکو تولید او صادرات په ورستۍ لسیزه کې ډیره وده موندلی، خو په کرنیزو صادراتی تولیداتو کې د هغوی برخه ډیره لږ ده. ختکی او هندوانی په عمده توګه په محلی بازار کې مصرفیږی.

**د نړیوال مارکیت لید:**
زمونږ د احصائیو پر اساس، افغانستان دنړی د (هندوانو او ختکیو) د ۱ ٪ تولید سره ډیر مهم تولید کوونکی هیواد شمیرل کیږی، خو له دې سره سره دغه هیواد د صادراتو د ټیټی کچی په درلودلو سره په نړیواله سطحه لازم شهرت ته نه دی رسیدلای. عمده او مهم تولید کوونکی هیوادونه همیشه بریالی صادرونکی نه دی. ځینی هیوادونه لکه چین چې د نړی لوړ تولیدات لری خو نور هیوادونه لکه مکسیکو، برازیل، د اروپائی اتحادیې هیوادونه او ګواتیمالا د ټیټ تولید سره سره د بین المللی بازارونو په لاس ته راوړلو کې ډیر فعال دی او د نړی دصادراتو د بازار لویه برخه په هغو پوری اړه لری. هغوی په دی اړه ښی صادراتی ستراتیژۍ لری چی پاملرنه ئی د نوو بازارو د نوو احصائیی، مصرف او رشد پراساس، د مثال په توګه اروپائی اتحادیه- ۲۷ هیوادونه، د خپلو توکو لپاره د لا پراخو بازارونو لاس ته راوړلو ته متمرکزه ده.

**د صادراتو لرلید:** د صادراتی نرخ محاسبی وښودله چی هندوانه په موجوده بازارونو (هند او پاکستان) کی ډیر لږ فرصتونه او امکانات لری. په دغو بازارونو کې د هندوانو نرخونه ډیر رقابتی دی، چې په دې توګه صادر کوونکو ته په هغه صورت کی چې وغواړی له نوموړو فرصتونو څخه استفاده وکړی، ډیره لږه ګټه لاس ته ورځی.
د صادراتی تعادلی نرخ لمسون یا تحریک په نوو ځایونو که چی د نړی د عمده وارداتی هیوادونو په کتار کی شمیرل کیږی، او ددې وس لری چی ددې توکی لپاره تقاضا له محل څخه رفع کړی، او هغه ځایونه چی کله کله د صادراتو لپاره آزمایښت شوی وی، دا خبره څرګندوی چی دغو بازارونو ته د هندوانو صادرات کولای شی لا ښه عایدات لاس ته راوړی. د اروپايي اتحادیې هیوادونو لکه پولنډ له ډیر ښه رقابتی بازار سره کولای شی ډیره ښه ګټه صادر کوونکو ته ترلاسه کړی. عین موضوع د روسیې د بازار په مورد کی هم صدق کوی.

د ختکیو صادرات په عمده توګه سیمه ئیز بازار ته صورت مومی چیرته چې د صادراتو نرخ او د ګټی کچه ټیټه ده. نوو بازارونو ته د صادراتو هڅول چی پورتنی معیارونه ئی پوره کړی، څرګندوی چی ګټی په دی بازارونو کی په پرتلیزه توګه ډیری لوړی دی. روسیې او اروپایی اتحادیې ته د هندوانو صادرات، صادر وونکو ته د نرخ له نظره د ښو مذاکراتو لوړی ګټی زمینه برابروی. صادروونکی اختیار لری چی په خپلو توکو کې ګټه په هر واحد کې ترلاسه کړی (په هغه صورت کی چی توکي یې د واردونکی هیواد د بازار په بیه خرخ کړی) یا خپله ګټه د زیات مقدار د خرڅولو له لاری لاس ته راوړی (که چیری توکې په ټیټه رقابتی بیه د وارد کوونکی هیواد د بازار د نرخ په پرتله، خرخ کړی).
د رقابتی نرخ نور فکتورونه: بازار او د مصروف کوونکو (مستهلکینو) چال چلند او په همدا ډول غیر تعرفوی موانع (خنډونه) هغه حقایق دی چې باید بازار ته له ننوتو مخکی باید په نظر کې ونیول شی.

**د متشبثینو لید یا نظر:** محلی تقاضا په عمده توګه د محلي تولید په واسطه رفع کیږی نو ځکه د تجارت د چټک پرمختګ او د داخلی عایداتو د رشد لپاره زمینه ډیره پراخه نه ده. د متشبیثینو ستراتیژی باید له بهر څخه پر رشد بنا وی او داموخه باید په عمده توګه له بهرنی مناسبو بازارونو څخه په داسی حال کې چې له عنعنوی سیمه ایزو بازارونو څخه نورو صادراتی فرصتونو ته د تللو لپاره پوره پاملرنه وشی، د عاید او ګټی په توګه، لاس ته راشی. هغه مهم فکتورونه چې نوی بازار ته د داخلیدو څخه وړومبۍ باید په نظر کې ونیول شی عبارت دی له غیر تعرفوی خنډونو، د بازار احتمالی او ممکنی اړتیاوی، او داسی نور په بازار موندنی پوری اړوند مسایل، ترڅو په نوو بازارونو کې بریالی شو او په بازار کې د مستهلکینو تقاضا په ښه توګه تر سره کړو.